# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

دولسم کال، یوسلو دوه څلویښتمه ګڼه د ۱۳۹۸ د وری میاشت

د افغانستان بانک



# د افغانستان بانک لوی رئیس د هېواد روښانه اقتصادي راتلونکي ته هیله مند دی



# اطلاعیه!

**به اطلاع هموطنان عزیز رسانیده میشود که انجام معاملات مالی با فراهم کنندگان خدمات پولی (حواله داران) و صرافان غیر مجُوز بر علاوه اینکه اعتبار قانونی ندارد، دارای مصونیت قانونی نیز نمی باشد.**

# بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگر: عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی

آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af

شمارهٔ ثبت: ۶۵۸

www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دې ګڼې مطالب


دور پنجم برنامه تسهیلات اعتباری موفقانه تکمیل شد

د افغانستان بانک لوی رئیس د هېواد روښانه اقتصادیې راتلونکې ته هیله مند دی

رئیس کُل د افغانستان بانک در اجلاس بهاری صندوق بین المللی پول اشتراک نمود

د اعتباري اسانتیاوو د پروګرام پنځمه دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسیده

د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو څخه د مخنیوي د همغږۍ عالي کمیسیون ...

امضای تفاهمنامه همکاری فی مابین د افغانستان بانک و اداره تنظیم خدمات ...

د افغانستان بانک تفاهم نامه تبادل اطلاعات مالی را با ریاست محترم امنیت ملی، ...

فراز و فرود و افزایش مهاجرت در سطح جهان

د ټولنیزه خوندیتوب پیاوړتیا او د بشري پانګې پراختیا لپاره د کورنیو مالیاتو د ...

د افغانستان بانک عملیاتی کړنوته ځغلنده کتنه

رئیس کُل د افغانستان بانک به آیندهٔ روشن اقتصاد کشور خوش بین است

د آسیا پراختیایي بانک له افغانستان سره د بیخ بنسټونو په جوړولو کې مرسته کوي

اقتصادي خبرونه

نگاهی در مورد سواد مالی Financial Literacy

نقش زراعت در توسعه اقتصادی

چکیده ای پیرامون ارزش اقتصادی مس و تالک افغانستان



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# دور پنجم برنامه تسهیلات اعتباری موفقانه تکمیل شد

هیئت صندوق بین المللی پول ضمن تائید تکمیل بررسی مرحله پنجم روی تحولات اقتصادی، خصوصاً تطبیق اهداف مقداری معطوف به تحکیم و تقویت ثبات اقتصاد کلان، ارزیابی اهداف اصلاحات ساختاری در عرصه تقویت نظام مالی و بانکی کشور و همچنان تقویت سکتور خصوصی و بررسی وضعیت شاخص ها و متغیرهای اقتصاد کلان مثل نرخ تورم، بیلانس تادیات، رشد اقتصادی و ذخایر اسعاری کشور بحث نموده و از عملکرد افغانستان در زمینه تکمیل موفقانه دور پنجم برنامه تسهیلات اعتباری (ECF) تقدیر به عمل آورد.

د افغانستان بانک منحیث بانک مرکزی کشور همواره تلاش نموده است تا در سایر عرصه ها، بخصوص در بخش اصلاحات ساختاری، تطبیق سیاست پولی و مدیریت ذخایر ارزی برنامه ها و فعالیت های کارا و مؤثر را انجام دهد تا بر تحکیم و تقویت نظام بانکی و مالی کشور بیافزاید و به تبع آن در ثبات اقتصاد کلان اثرگذار باشد.

باید یادآور شد که د افغانستان بانک در امر کنترول نرخ تورم موفقانه عمل نموده است. طوریکه نرخ تورم طی سال مالی ۱۳۹۷ بین ( ۴.۳۰ و ۱.۶۳-) قرار داشته و در ۳۰ قوس ۱۳۹۷ به ۰.۷۵ درصد ثبت گردیده است که نشاندهندۀ موفقیت بانک در تحقق اهداف از قبل تعیین شده می باشد. به همین ترتیب ذخایر خالص ارزی کشور که در آخر سال مالی ۱۳۹۶ به ۷،۳۵۰.۳۴ میلیون دالر میرسید، در ۳۰ قوس ۱۳۹۷ به ۷،۷۰۸.۵۸ میلیون دالر رسید که دستاورد قابل ملاحظه برای بانک محسوب میشود.

موارد فوق که از جمله شاخص های اساسی اقتصاد ملی پنداشته شده؛ در کنار سایر فعالیت ها، از جمله کارکردهای عمدۀ د افغانستان بانک و دستاورد بزرگی برای نظام مالی کشور نیز محسوب می شوند.▣

# د افغانستان بانک لوی رئیس د هېواد روښانه اقتصادي راتلونکي ته هیله مند دی




سره له دې چې افغانستان د ټولنیزو او اقتصادي ننګونو سره مخ دی، خو بیا هم د افغانستان بانک لوی رئیس ښاغلي خلیل صدیق د افغانستان ښې اقتصادي راتلونکي ته هیله مند دی.

له نړیوالو بانکي معیارونو سره د افغانستان د بانکي سکتور د برابرولو پایله له نړیوالو مالي بازارونو سره د هېواد د مالي بازار د اړیکو په برخه کې یو ستر ګام ګڼل کیږي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره د افغانستان بانک، د مرکزي بانک په توګه دوه دندې لري چې یو یې د هېواد د بانکي بیخبنسټونو عصري کول او بل یې د لومړي ځل لپاره د بانکدارۍ رسمي خدمتونو ته د هېواد د شاوخوا ۹۰ سلنه وګړو د جلبولو هڅه ده.

د افغانستان بانک لوی رئیس ښاغلي خلیل صدیق چې د دې بهیر مشري

»

کوي، وايي: ″د راتلونکو کلونو لپاره د هېواد د بانکونو او اقتصاد په برخو کې د افغانستان بانک بنسټیزه موخه او پلان دا دی څو د بیو ثبات د سالمه او موثره پولي سیاستونه په طرح کولو او تطبیقولو سره وساتي، د مبادلې په نرخ کې شدید نوسانونه راکم کړي او د اقتصادي ودې ترڅنګ د لوی اقتصاد په ټولیزه ثبات کې ونډه واخلي″.

تر اوسه پورې په دې برخه کې پرمختګ مثبت ثابت شوی دی. د ۲۰۱۸ کال په ډیسمبر میاشت کې د پیسو نړیوال صندوق (IMF) د افغانستان د اقتصادي او مالي سمونونو د ارزونې څلورم شپږ میاشتنی راپور خپور کړ. په دې راپور کې راغلي دي چې افغانستان د سمونونو د پروګرام په برخه کې له شرایطو سره ځان برابر کړی دی. د پیسو نړیوال صندوق د افغانستان بانک د انفلاسیون د کچې د ټیټ ساتلو او د اسعاري زیرمو د زیاتولو لپاره ستایلی دی. د اقتصادي او مالي سمونونو د څلورمې ارزونې په بریالۍ بشپړتیا سره، افغانستان د پیسو د نړیوال صندوق لخوا د ۶.۲ میلیونه امریکایي ډالرو وړ او مستحق ګرځېدلی دی او افغانستان تر اوسه پورې په دې برخه کې له نړیوال صندوق څخه ۲۴.۸ میلیونه امریکایي ډالره ترلاسه کړي دي.

په بانکي سکتور کې د لا زیات ثبات او ټیکاو ترلاسه کول، هر اړخیزې ارزونې او د جدي قوانینو پلي کیدو ته اړتیا لري. ښاغلی صدیق وايي ټول بانکونه به د منظمې او هر اړخیزې څارنې لاندې ونیول شي څو له یوې خوا د مشتریانو له کلک خوندیتوب څخه ډاډ ترلاسه شي او له بلې خوا بانکونه وکړای شي مالي خدمتونو ته د هېوادوالو د لاسرسی د پراختیا په برخه کې پرمختګ وکړي.

**د بانکدارۍ د اډانې پراختیا**

د اصلي اجنډا د یوې برخې په توګه، د افغانستان بانک مالي خدمتونو ته د لاسرسي په نوم یو ځانګړی آمریت جوړ کړی چې په ملي کچه کار کوي. دا آمریت له نړیوال بانک سره د افغانستان لپاره مالي خدمتونو ته د لاسرسي د ملي ستراتیژۍ (NFIS-A) په برخه کې همکاري کوي چې تمه کېږي د ۲۰۱۹ کال په نیمایي کې په لاره واچول شي. ښاغلی صدیق وايي: ″ دا ستراتیژي به په هېواد کې مالي خدمتونو ته د لاسرسي د پراخولو او پیاوړي کولو لپاره د موبایل د تکنالوژۍ پر رول باندې تمرکز وکړي. د موبایل مخابراتي شبکې په دې پروسه کې زمونږ ذینفعې ډلې ګڼل کېږي″.

د ښاغلي صدیق په وینا، د نړیوال بانک یوه څېړنه ښکاره کوي چې د افغانستان ۳۶ سلنه وګړي له دې امله د بانکونو له خدمتونو څخه ګټه نه اخلي چې وايي د بانکونو خدمتونه د شریعت اصولو سره برابر نه دي. د دې ستونزې د حلولو لپاره په ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان بانک په هېواد کې د لومړي بشپړ اسلامي بانک جواز منظور کړ چې په پایله کې یې د افغانستان اسلامي بانک (IBA) جوړ او په کار پیل وکړ.

د مرکزي بانک رئیس هیله مند دی چې د اسلامي بانکدارۍ ته لا زیاته لاسرسي به په هېواد کې د مالي خدمتونو په اړه د خلکو مثبت لید لورې پیاوړی کړي. همدا ډول ښاغلی صدیق وايي: ″یو بشپړ اسلامي بانک پر مالي ادارو باندې په ټولیزه توګه د خلکو باور زیاتوي″. مالي خدمتونو ته د لاسرسي د زیاتولو ترڅنګ به د افغانستان اسلامي بانک تشبثاتو او سوداګریزو ادارو ته د اسلامي مالي تمویل له برابرولو سره په اقتصادي وده کې خپله ونډه ترسره کړي.

«

**د سوداګریزو ادارو هڅول**

د افغانستان بانک د هېواد د اقتصادي پرمختګ په برخه کې یو شمېر نور ګامونه هم پورته کړي دي. د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په پیل کې د افغانستان بانک اعلان وکړ چې په ټول هېواد کې د ټکټانې په منځني نرخ کې کموالی راولي. د ټکټانې په نرخ کې د کموالي دا پروسه په لومړي ځل د ۲۰۱۸ کال په مارچ کې پر پورونو باندې تطبیق شوه چې د پورونو د ټکټانې منځنی نرخ له ۱۳ سلنې څخه ۱۲.۲ سلنې ته راکم شو چې تمه کېږي په دې کار سره پانګې اچونې زیاتې او اقتصادي وده ښه شي. سربېره پر دې، د پور تضمینونو چارې اسانه شوي او د پور د بیا ورکړې دورې له درېو کلونو څخه پنځو یا اوو کلونو ته غځېدلي دي.

کرنه د افغانستان د کورني ناخالصه تولیداتو یوه ستره برخه جوړوي چې نږدې ۶۱ سلنه کورنۍ له دې سکتور څخه خپل عاید ترلاسه کوي. د نړیوال بانک د راپور له مخې، ۷۰ سلنه افغانان په کلیوالي سیمو کې کار او ژوند کوي. ښاغلی صدیق وایي چې افغانستان وچکالۍ ځپلی دی، خو وروستي اورښتونه او واورې به په راتلونکي کې کرنیزه شرایط ښه کړي او د کرنې سکتور به پیاوړی کړي.

د افغانستان بانک دا مني چې د ملي اقتصاد په کچه اوس هم د افغانۍ د ثبات، د نړیوالې سوداګرۍ د هڅولو او هېواد ته د لازیاتو بهرنیو پانګه اچوونکو د راجلبولو لپاره خورا ډېره اړتیا لیدل کېږي. ښاغلی صدیق وایي ″ د افغانستان بانک له مدیریت شوي متحوله مبادلې نرخ له رژیم څخه کار اخلي او د اسعارو په بازار کې مثبته لاسوهنه کوي څو د مبادلې په نرخ کې په ځانګړي توګه د افغانۍ پر وړاندې د امریکایي ډالرو شدید نوسانونه راکم کړي. په بازار کې د افغانۍ د ثبات ساتلو لپاره د افغانستان بانک په بنسټیزه توګه له دوو ابزارونو د اسعارو او د پانګه ایزو پاڼو له لیلام څخه کار اخلي.

**د بانکدارۍ ملاتړ**

څرنګه چې د افغانستان بالقوه بریا د هغه د بانکي نظام له ثبات سره تړاو لري، داسې اندیښنې شته دي چې راتلونکي ټولټاکنې او ورځ تر بلې زیاتېدونکې سیاسي بې ثباتي به پر اقتصاد او پر بانکي سکتور منفي اغېزه وکړي او د بانکونو لیوالتیا به د خطر منلو لپاره کمه کړي. ښاغلی صدیق وایي: ″ له بده مرغه سیاسي بې ثباتي لامل کېږي چې بانکونه په خپل بیخبنسټ کې پانګه اچونه ونکړي او خصوصي سکتور ته د لنډ مهاله او منځمهاله پورونو ورکړه لا زیاته کړي″.

د امریکې د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د سولې روانې خبرې اترې په هېواد کې د تلپاتې سولې او ثبات هیلې راټوکولي دي. د مرکزي بانک لوی رئیس باور لري چې د سولې په خبرو اترو کې پرمختګ پر بانکي سکتور باندې د مثبتې اغېزې ترڅنګ په هېواد کې خصوصي سکتور ته ګټه رسوي.

ښاغلی صدیق وایي ″ ذکر شوي بدلونونه کولای شي د لوي اقتصاد پر ثبات باندې مثبته اغېزه وکړي. په ټولیزه توګه باید وویل شي چې په منځمهاله توګه په راتلونکي کې د هېواد د اقتصادي ودې لپاره هیلې او تمې زیاتې دي″.▣

لیکونکې: کیمبرلي لانګ ( The Banker مجله) د ۲۰۱۹ کال د اپریل لومړی نېټه

# رئیس کُل د افغانستان بانک در اجلاس بهاری صندوق بین المللی پول اشتراک نمود




حمل ۱۳۹۸– محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک و هیئت همراه شان در اجلاس بهاری صندوق بین المللی پول و جلسات حاشیهٔ آن، اشتراک ورزیدند. اجلاس بهاری صندوق بین المللی پول در هفته دوم ماه اپریل ۲۰۱۹ در شهر واشنگتن ایالات متحده امریکا در مقر این نهاد با حضور داشت روسای بانک مرکزی و مقامات مالی و بانکی کشورهای عضو آن، تدویر گردید. در این اجلاس آخرین وضعیت اقتصادی جهان، چالشها و چشم انداز های پیش رو و سیاست های پولی و مالی کشورهای توسعه یافته، در حال ظهور و کشور های درحال توسعه و کمتر توسعه یافته مورد بحث قرار گرفت.

در حاشیهٔ این اجلاس هیئت د افغانستان بانک با خانم کرستین لگارد رییس اجرایی صندوق بین المللی پول، آقای فروساوا معاون صندوق بین المللی پول در امور خاورمیانه و آسیای مرکزی و افغانستان و مقامات بانک مرکزی ایالات متحده امریکا، روسا و مقامات چندین بانک مهم بین المللی ملاقات های دو جانبه و چند جانبه را انجام داده و در باره موضوعات مورد علاقه و زمینه های استحکام و تقویت همکاری ها به تبادل نظر پرداختند.

طی این نشست ها رییس کُل د افغانستان بانک در زمینه دست آورد ها و پیشرفت های افغانستان در عرصه حفظ ثبات سطح عمومی قیمت ها و حفظ ثبات و سلامت نظام مالی توضیحات لازم ارائه نموده و روی موضوعات مورد علاقه بحث نمودند.

در بخش دیگر از این سفر، رییس کُل د افغانستان بانک در نشستی که برای شرکت های معتبر امریکایی که علاقه مند سرمایه گذاری در افغانستان میباشند و به میزبانی سفارت افغانستان مقیم ایالات متحده امریکا، تدویر گردیده بود، اشتراک ورزیده و در زمینه سهولت های بانکی برای تاجران و سرمایه گذاران معلومات همه جانبه ارائه کرده و به سوالات تاجران پاسخ داد.▣

# د اعتباري اسانتیاوو د پروګرام پنځمه دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسیده



**د مالیی وزارت او د افغانستان بانک پلاوی،** د پیسو د نړیوال صندوق له پلاوي سره د ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د کب په ۲۷ او ۲۸ نېټو د عربي متحده اماراتو د دبی په ښار کې ولیدل او له دوي سره یې د اعتباري اسانتیاوو د پروګرام (ECF) د پنځمې دورې بشپړیدو په اړه بحث او نظرونه تبادله کړل.

د پیسو نړیوال صندوق پلاوي د اعتباري اسانتیاوو د پروګرام د پنځم پړاو د بشپړیدو د تائیدۍ ترڅنګ په اقتصادي بدلونونو، په ځانګړې توګه د لوی اقتصاد د ثبات د ټینګښت او پیاوړتیا لپاره د مقداري موخو په تطبیقولو، د هېواد د مالي او بانکي نظام د پیاوړتیا په برخه کې د جوړښتیزو موخو په ارزولو او همدا ډول د خصوصي سکتور په پیاوړتیا او د لوی اقتصاد د شاخصونو او بدلونونو لکه، د انفلاسیون نرخ، د ادراینو بیلانس، د هېواد د اقتصادي او اسعاري زېرمو د وضعیت په څېړلو باندې بحث وکړ او په بریالیتوب سره د اعتباري اسانتیاوو د پروګرام د پنځمې دورې د بشپړتیا په برخه کې یې د افغانستان د کړنو سمونونو د ستاینه وکړه . تمه کېږي چې د پیسو نړیوال صندوق د خپلې ارزونې راپور، د دې صندوق له اجرائیوي بورډ سره شریک کړي او شاوخوا ۶.۱ میلیونه امریکایي ډالره د هڅوونکو پیسو په توګه د افغانستان حکومت ته په مالي او اقتصادي برخه کې د دولت د اقداماتو لپاره تادیه کړي.

د یادونې وړ ده چې په دې خبرو اترو کې د افغانستان بانک د ټولو رییس او پلاوي ترڅنګ، د مالیې وزارت پلاوی د دې وزارت د سرپرست ښاغلي پروفیسو همایون قیومي په مشرۍ او د پیسو په نړیوال صندوق کې د افغانستان د چارو مسؤول ښاغلي دینوالډ کرستوف له ورسره پلاوي سره هم ګډون کړی وو.

# د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو څخه د مخنیوي د همغږۍ عالي کمیسیون طرزالعمل تصویب شو



د ۱۳۹۸ کال د وري ۷ مه- د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو د مخنیوي د همغږۍ عالي کمیسیون د همکارۍ دویمه غونډه د افغانستان بانک په مرکزي دفتر کې جوړه شوه. د دې غونډې اصلي موخه له پیسو وینځلو سره مبارزه، د ترهګرۍ د مالي سرچینو له منځه وړل او د پیسو له قاچاق او مالي جرمونو څخه مخنیوی وو چې په ترځ کې د یاد کمیسیون طرزالعمل هم د غړو له خوا تصویب شو.

د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون د دري دېرشمې مادې پربنسټ یاد کمیسیون د ۱۰ دولتي ادارو په ګډون رامنځته شوی چې طرزالعمل یې هم د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون د درې دېرشمې او څلور دېرشمې مادې پربنسټ جوړ شو.

د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو د مخنیوي د همغږۍ عالي کمیسیون رئیس ښاغلي خلیل صدیق وویل چې د طرزالعمل پربنسټ د دې کمیسیون اصلي دندې د ترهګرۍ د تمویل او پیسو وینځلو له جرمونو څخه مخنیوی، له رامنځته شوې پالیسۍ څخه ارزونه او څارنه، د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د مخنیوي د قانون په اړه د وړاندیزونو او تعدیلاتو ارزونه او د پیسو وینځلو د خطرونو د ارزونې پرمهال د ښې همغږۍ رامنځته کول، ګڼل کیږي.

ښاغلي خلیل صدیق زیاته کړه چې د طرزالعمل پربنسټ به کاري کمیټې خپلې چارې پیلوي او د اړتیا په صورت کې به یې له کمیسیون سره شریکوي او په پای کې به کمیسیون د چارو د پرمختګ په موخه خپلې غونډې جوړوي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د لوی رئیس سربېره د مالیې، عدلیې، بهرنیو چارو، کورنیو چارو، د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې وزارتونو، لویې څارنوالۍ، د ملي امنیت شورا او ملي امنیت ریاست استازو او د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز استازو ګډون کړی وو. ▣

# امضای تفاهمنامه همکاری فی مابین د افغانستان بانک و اداره تنظیم خدمات مخابراتی افغانستان



کابل ۱۳ حمل ۱۳۹۸ – د افغانستان بانک در تلاش است تا از طریق توسعه سیستم ثبت اعتبارات عامه تسهیلات بیشتر را در زمینه دسترسی به وجوه مالی فراهم سازد. به همین منظور یک سلسله تفاهمنامه ها را با تعداد از ادارات دولتی کشور به امضا رسانیده و این بار تفاهمنامهٔ را با اداره محترم اترا عقد نمود.

محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک حین امضای این تفاهمنامهٔ همکاری گفت که د افغانستان بانک همواره سعی نموده است تا از طریق توسعه و انکشاف سیستم ثبت اعتبارات عامه تسهیلات بیشتر را در زمینه دسترسی به وجوه مالی در کشور فراهم سازد. به همین منوال ادارات مرتبط را با در نظر داشت مزایا و مؤثریت این سیستم وا می‌دارد تا نقش مؤثری در نظام اقتصادی کشور ایفاء نمایند.

متعاقباً محترم داکتر نجیب عزیزی رئیس اداره تنظیم خدمات مخابراتی افغانستان گفت که هدف از جمع آوری معلومات اعتباری در سیستم ثبت اعتبارات از شرکت های مخابراتی اینست که مشترکین مخابراتی را متوجه مکلفیت های تادیاتی شان در وقت و زمان معین نماید تا باعث ایجاد سوابق خوب مالی برای مشترکین مخابراتی گردد و اعتبارشان در سکتور مالی کشور و مارکیت افزایش یابد.

سیستم ثبت اعتبارات عامه که با مُدرن ترین تکنالوژی مجهز می باشد، میتواند بطور مستقیم و غیر مستقیم بالای اقتصاد کشور از طریق سرعت عمل در تصمیم گیری، شفافیت در امور کاری، کاهش مصارف عملیاتی، کاهش خطرات مالی، و شناسایی اشخاص و افراد بربنیاد سوابق اعتباری در امور معاملات مالی، تأثیر گذار باشد.

جمع آوری معلومات اعتباری از بانک های تجارتی، مؤسسات مالی کوچک، د افغانستان برشنا شرکت، شرکت های مخابراتی و سایر ادارات مرتبط از یک طرف میتواند افزایش دسترسی به وجوه مالی، شفافیت، سرعت عمل در اجراأت و حمایت از افزایش عواید دولت را به بار بیاورد، از جانب دیگر این پروسه افغانستان را کمک مینماید تا در رده بندی راپور سالانه Doing Business بانک جهانی درجایگاه بهتری در بخش Getting Credit یا گرفتن اعتبار مالی، قرار بگیرد.▣

# د افغانستان بانک تفاهم نامه تبادل اطلاعات مالی را با ریاست محترم امنیت ملی، امضا نمود




کابل، ۲۴ حمل ۱۳۹۸- د افغانستان بانک تفاهم نامه همکاری تبادل اطلاعات در رابطه به مبارزه علیه تمویل تروریزم، از بین بردن منابع مالی آنها، قاچاق پول و جلو گیری از جرایم مالی را با ریاست محترم امنیت ملی کشور، به امضا رساند.

محترم واحد الله نوشیر معاون اول و سرپرست د افغانستان بانک، ضمن سپاسگزاری از هیئت رهبری ریاست امنیت ملی گفت که هدف از این تفاهم نامه، گسترش همکاری های دوجانبه میان د افغانستان بانک و ریاست امنیت ملی میباشد تا جلو تمویل تروریزم و پولشویی گرفته شود.

همچنان محترم احمد ضیا سراج معاون ریاست عمومی امنیت ملی گفت که تبادل اطلاعات در رابطه به مبارزه علیه تروریزم، از اهمیت بلند برخور دار است، امنیت ملی نیز آماده است تا در رابطه مبارزه علیه پولشویی و تمویل تروریزم با د افغانستان بانک همکاری نماید.

در اخیر محترم نثار احمد یوسفزی آمر عمومی مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی از ادارات مربوطه بخصوص از ادارات کشفی، عدلی و قضایی تقاضا نمود تا در راستای مبارزه علیه پولشویی و تمویل تروریزم همکاری بیشتر نمایند.

محترم یوسفزی همچنان خاطر نشان نمود طی سال جاری در تناسب به سال قبل، همکاری میان د افغانستان بانک و ریاست امنیت ملی به ۳۵٪ افزایش یافته که نتیجه مثبت را به همراه دارد. ◙

# فراز و فرود و افزایش مهاجرت در سطح جهان

ترانسپورت عصری و تکنالوژی های دیجیتلی برای مردم روند رفت و آمد از مرزها را آسان تر ساخته است. در سراسر جهان، حدوداً به تعداد ۲۵۸ میلیون افراد و یا هم ۳.۴ درصد مجموع نفوس جهان؛ خارج از زادگاه شان زندگی می نمایند. درحال حاضر، نفوس بین المللی مهاجرین سه برابر سطح ثبت شدهٔ سال ۱۹۷۰ می باشد. باید گفت که، مهاجرت به سطح جهان به عوامل مختلف صورت می گیرد؛ مهاجرین اقتصادی که بگونهٔ داوطلبانه کشور های خویش را بمنظور جستجوی شغل ترک می نمایند در حالیکه، برخی دیگری از مهاجرین در اثر موجودیت تنش های داخلی کشور شان و سایر خشونت ها به مهاجرت رو می آورند. مهاجرت را می توان از یک سوء بعنوان مزیت اقتصادی نام برد، ولی از سوی دیگر بعضاً عواقب ناگوار و چالش های سیاسی را نیز به همراه دارد.

اگر به این مسئله بگونهٔ عمیق تر پرداخته شود، دلیل اساسی مهاجرت به سطح جهان عمدتاً بمنظور دریافت کار نسبت داده شده است. کارگران مهاجر جهان دو در سه (۳/۲) حصهٔ تمام مهاجرین بین المللی را تشکیل می دهند و اکثریت این مهاجرین به کشور های که دارای درآمد بالا بوده، نقل مکان می نمایند. برای این اشخاص و خانواده های شان، مهاجرت در خصوص درآمد، تحصیلات و صحت منافع قابل ملاحظهٔ را در پی دارد. در عین زمان برای کشور های اصلی آنها، مهاجرت می تواند سطح بیکاری را کاهش و انتقال دانش را تقویت بخشد. طی سال ۲۰۱۷، این مهاجرین به ارزش ۶۱۳ میلیارد دالر امریکایی را به خانواده های شان فرستاده اند که جریانات مالی و منبع دوامدار درآمد را برای آنها فراهم نموده است. همچنان، برای کشور های که مهاجرین را می پذیرد، مهاجرت می تواند نیروی کاری و مؤلدیت را افزایش داده و بالای سیستم تقاعد فشار را کاهش دهد.

نباید نادیده گرفته شود که همه مهاجرت ها در شرایط مطلوب صورت نمی گیرند. طی سال ۲۰۱۷، تنش ها و آزار و اذیت مردم در کشور های اصلی شان باعث مهاجرت ۶۸.۵ میلیون افراد شده که از آن جمله ۲۵.۴ میلیون آن پناهنده، ۳.۱ میلیون آن پناهجو و بیشتر از ۴۰ میلیون آن در کشور های خویش آواره شده اند. بیش از نصف این مهاجرین را کودکان تشکیل می دهند که اکثریت آنها بدون همراه و یا هم از والدین خویش جدا بوده اند. یک سوم (۳/۱) این مهاجرین به کشور های که از نگاه اقصاد کمتر مترقی بوده مهاجرت می نمایند، که در نتیجه با کمبود ظرفیت جا دادن و تابعیت مواجه می شوند.

مهاجرت در خصوص رفاه اقتصادی، پیشرفت بشر، امنیت و حصول اطمینان از مهاجرت مصئون و بهتر تنظیم شده، از اهمیت خاص برخوردار بوده و یکی از اولویت های جهانی بشمار می رود. بطور مثال، ملل متحد بمنظور بهبود مدیریت از مهاجرت دو معاهدهٔ جهانی را اتخاذ نموده است. این موضوع روشن می باشد که هیچ کشور نمی تواند به تنهایی چالش های مهاجرت را مدیریت نماید. چالش های فرا مرزی نیازمند راه حل های فرا مرزی می باشد.

## روند رو به رشد مهاجرت




منبع: ملل متحد




منبع: گزارش جدید مهاجرت جهانی ۲۰۱۸

به ارزش ۴۶۶ میلیارد دالر امریکایی و یا ۷۶ درصد جریانات پرداخت های جهانی بـه اقـتصاد های در حـال توسعه صورت می گیرد که این رقم **سه برابر** کمک های رسمی توسعوی سال ۲۰۱۷ می باشد.

کشور های که به آن پول فرستاده می شود

جریانات ورودی پرداخت های جهانی مهاجرین طی سال ۲۰۱۷، مبلغ به میلیارد دالر امریکایی




منبع: بانک جهانی

مهاجرین کشور های فقیر، پس از مهاجرت به کشـور های توسعه یافته از مزایای ذیل مستفید گردیده اند:



**۱۵ برابر افزایش در درآمد**



**۲ برابر افزایش در ثبت نام به مکاتب**



**۱٦ برابر کاهش در مرگ و میر اطفال**

## مهاجرت بعضاً چالش‌زا نیز می باشد

بحران مهاجرین در سوریه و سودان از میان ۱۰ مهاجرت جهان طی سال های ۲۰۱۰ الی ۲۰۱۵، چهارمین بحران را تشکیل میدهد. اکثریت مهاجرین که طی سال های ۲۰۰۵ الی ۲۰۱۰ از افغانستان به پاکستان مهاجرت کرده بودند، طی سال های ۲۰۱۰ الی ۲۰۱۵ دوباره به کشور خود بازگشته اند که این امر جریان معکوس مهاجرت را نشان میدهد.

۱۰ دهلیز برتر مهاجرت از سال ۲۰۱۰ الی ۲۰۱۵

تعداد مهاجرین بین المللی به میلیون ها فرد




۱۰ دهلیز برتر مهاجرت از سال ۲۰۰۵ الی ۲۰۱۰

تعداد مهاجرین بین المللی به میلیون ها فرد




یادداشت: بعضی از کشورها بدلیل نبود اطلاعات، در این لیست قرار نداشته، ولی بمنظور مقایسه در نظر گرفته شده اند.




طی سال ۲۰۱۷، ۸۵ درصد تمام مهاجرین به اقتصاد های در حال توسعه که شامل ایران، لبنان، پاکستان، ترکیه و یوگاندا بوده، مهاجرت کرده اند.

طی سال ۲۰۱۷، ۶۸ درصد تمام مهاجرین از پنج کشور ذیل می باشند: افغانستان، میانمار، سومالیا، سودان جنوبی و سوریه

تهیهٔ مقاله: جیا فینگ، کارمند ارشد ارتباطات – صندوق بین المللی پول

ماهنامهٔ: Finance and Development – دسمبر ۲۰۱۸

برگردان: سید محمود هاشمی



# د ټولنیزه خوندیتوب پیاوړتیا او د بشري پانګې پراختیا لپاره د کورنیو مالیاتو د ظرفیت لوړول اړین دي

د پرمختګ په حال کې هغو اقتصادونو لپاره چې غواړي د ټولنیز خوندیتوب سیستمونه پیاوړي، زده کړه او روغتیا تـه لاسرسی زیاته کړي، یوه ستره ننګونه دا ده چې څنګه د یو لوی غیر رسمـي سکـتـور پـه ساحه کې خپل اړین عواید زیات کړي.

باید وویل شي چې د غیر رسمي سکتور بنسټیز ځانګړنه په دې سکتور کې په زیاته پیمانه د لږ مهارت لرونکو دنـدو او همدا ډول د عوایدو د ځو ډولـه او د بـدلـیـدو وړ سرچینې شتون دی. دا کار پر عوایدو په ځانګړې توګه په لږ عاید لرونکو وګړو باندې د مالیاتو له لارې د عوایدو د زیاتیدو امکانات محدودوي چې له امله یـې د ټـولـیـزه انفرادي عاید تثبیتولو ته اړتیا پیدا کیږي. د ټولنیزې بیمـې په برخه کې، غیر رسمي سکتور داسې معنی ورکوي چې دولت باید د عوایدو د عمومي سرچینو له لارې پر مـالـي تمویل باندې اتکاء زیاته کړي.

په دې برخه کې وروستۍ څېړنې ښکاره کوي چې ډېری هېوادونه وروسته له دې چې مالیاتي عواید یې د کورنـیـو ناخالصه تولیداتو نږدې ۱۵ سلنې ته ورسیږي، چټکـه وده کوي چې دا کار تر یوه بریده د لوړو ټولنیزو لګښـتـونـو ښکارندوي کوي. که څه هم، د لږ عاید لرونکو هېوادونو نیمایي او د پرمختګ په حال کې د اقتصادونو یو پر

دریمه (۱/۳) برخه هېوادونو د مالیاتو نسبتونه له ۱۵ سلـنـې څخه ټیټ دي. د مالیاتو ټیټ نسبتونه په خپـل وار د لـږ ټولنیز لګښت لامل کیږي (لومړی ګراف وګورئ).

د پرمختګ په حال بازارونو او پـه لـږ عـایـد لـرونـکـو

»

هېوادونو کې زيات مالياتي نسبتونه او بدلونونه دا په ډاګه کوي چې ډېری هېوادونه د لوړو مالياتو د لګولو لپاره پراخه فرصتونه او امکانات لري. ځينې هېوادونه په دې توانيدلي دي چې په وروستيو کلونو کې خپل مالياتي نسبتونه زيات کړي او د مالياتي عوايدو په پرله پسې زياتوالي سره د کورنيو ناخالصه توليداتو کچه ۱۵ سلنې ته لوړه يا نږدې کړي. همدا ډول د دې هېوادونو له ډلې د جورجيا هېواد مخکښنه دی چې له ۲۰۰۴ کال څخه تر ۲۰۰۸ کاله پورې يې د مالياتي عوايد له لارې خپل کورني ناخالصه توليدات ۱۲.۹ سلنې ته لوړ کړي. د مالديف په ۲۰۱۱-۲۰۱۵ کلونو کې د مالياتي عوايدو له لارې کورني ناخالصه توليدات ۱۱ سلنې ته زيات کړي دي. همدا ډول يو شمېر نورو هېوادونو هم په دې دوره کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي چې له دې ډلې ډومينيکا (۲۰۰۲- ۲۰۰۶ کلونو کې ۷.۵ سلنه)، ګانا (له ۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۴ پورې ۷.۳ سلنه)، ماوريشيا (له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۴ پورې ۶.۱ سلنه) موزامبيک (له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۱۱ پورې ۶.۱ سلنه)، ګونيا (له ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۲ پورې ۵.۸ سلنه)، ملوي (له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۷ پورې ۵.۷ سلنه) او کمبوديا (له ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۶ پورې ۵.۰ سلنه) پورې لوړوالی ثبت کړی دی.

## هغه هېوادونه چې د مالياتي عوايدو له لارې يې کورني ناخالصه توليدات ۱۵ سلنې ته ورسېږي، په لوړه کچه وده لرونکي هېوادونه ګڼل کېږي

دا هېوادونه ښکاره کوي چې څه شی شونی دی. خو دولتونه څنګه کولای شي چې په منصفانه او اغېزناکه

»

### د مالي تمويل پراختيا

لږ مالياتي عوايد د لږ ټولنيز لګښت لامل کېږي. د عوايدو لوړول له هېوادونو سره مرسته کوي څو وده وکړي.




سرچينه: د پيسو نړيوال صندوق، د نړيوالو معلوماتو ټولګه

يادداښت: بيلګه ايزه کچه د لګښت د بېلګې او د عوايدو د بېلګې په برخو کې د هېوادونو شمېر ښکاره کوي

### د مالياتو کچه او ترکيب

په بډايه هېوادونو کې د مالياتو کچه او ترکيب له غريبو هېوادونو سره توپير لري، چې په زياته اندازه لګښت او د لګښتونو پر مالياتو باندې ټينګار کوي.




سرچينه: د پيسو نړيوال صندوق، د نړيوالو معلوماتو ټولګه

توګه خپل مالیاتي ظرفیت لوړ کړي؟

کله چې دا هېوادونه خپل مالیاتي سیستمونه پرمختللی کوي، ورسره سم خپل لګښتي مالیات او پر مصرفونو باندې انتخابي مالیات لوړوي او د عایداتي مالیاتو د سیستمونو پراختیا په لومړیتوب کې واقع کوي (دویم ګراف وګورئ).

***پراخه لګښتي مالیات:*** هغه مالیاتو ته ویل کېږي چې یو هېواد خپل عواید د لګښتي مالیاتو په ځانګړې توګه د ارزښت لرونکو مالیاتو له لارې زیاتوي او د هغو هېوادونو لپاره د یو بنسټیز لامل په توګه پاتې کېږي چې په تېرو لسیزو کې یې خپل مالیاتي نسبتونه خورا لوړ کړي دي.

***پر لګښتونو باندې مالیاتو ته زیاته اتکاء:*** پر توکو باندې اصلاحي مالیات لکه؛ انرژي، الکول، تنباکو او (تر یوه بریده) خوږو مشروباتو (چې په عادي ارزښت لرونکو مالیاتو باندې وضع کېږي) کېدای شي د عوایدو لپاره یوه اغېزناکه سرچینه پاتې شي او د هغه د مصرف په تړاو منفي روغتیایي اغېزې راکمې کړي. د لګښتي مالیاتو ترڅنګ، پر مصرفونو باندې مالیات په لنډه موده کې د عوایدو د زیاتولو امکان رامنځ ته کوي.

***د شخصي عاید زیاتېدونکي مالیات:*** د دې سیستم پراختیا پرمختللو اقتصادونو لپاره د عوایدو یوه مهمه سرچینه او د عوایدو د بېرته ویشلو لپاره د اغېزناکه سیستمونو یوه مهمه برخه ګڼل کېږي. که څه هم، په غوړېدلو بازارونو او د پرمختګ په حال اقتصادونو کې مالیاتي معافیت او مالیاتي تیښتې د عوایدو دغه لنډمهاله امکان محدودوي. خو سره له دې هم، تجربو ښودلې ده چې هېوادونه اوس هم کولای شي چې پر شخصي عایداتو باندې د مالیاتو د پیاوړي سیستمونو له لارې عواید د پام وړ زیات کړي.

***اضافي مالیاتي تدابیر:*** د مالیاتي سرچینو د خوندیتوب او د لا پراختیا لپاره نورې سرچینې هم تر لاس لاندې نیول کېدای شي. دا اقدامات د سهامي عایداتي مالیاتو نه ورکړه او په نړیوال مالیاتي سیستم کې د دوه اړخیزه ورانوونکي سیالی کمول رانغاړي، خو دا کار هم پیاوړي نړیواله همکارۍ ته اړتیا لري څو اغیزې پر ځای پرېږدي. د سهامي مالیاتي نرخونو کچه په منځنۍ توګه په تېرو څو لسیزو کې په ټوله نړۍ کې د پام وړ کموالی موندلی او د معافیتونو، کسرونو او مالیاتي پلان جوړونې له کبله له قانوني نرخونو څخه ټیټ پاتې شوی دی.

***د لګښت ښه اغېزناکتیا:*** د ورته لګښت لرونکو هېوادونو په ټولنیزه پایلو کې د پام وړ بدلون راغلی دی چې دا د لګښت د اغېزناکتیا د لا ښه کېدو لپاره د زیاتو امکاناتو ښکارندوي کوي. د اضافي عوایدو له نه ضایع کېدو څخه د ډاډ ترلاسه کول اړین دي. ټول لګښتیزه توکي باید وکتل شي څو ډاډمن شي چې خپلو اقتصادي او ټولنیزو موخو ته رسېږي. د روغتیا ساتنې په سکتور کې د نا اغېزناکه لګښتونو اټکلونه ښکاره کوي چې د هېواد په ټولو عایداتي کټګوریو کې د لګښت شاوخوا ۴۰ سلنه ضایع کېږي. همدا ډول ډېری شمېر هېوادونه د انرژۍ پر نا اغېزناکو او ناعادلانه مالي لګښتونو باندې خورا ستر مبلغونه لګوي څو کورني مصرفوونکي د نفت له ناثابته نړیوالو بیو څخه وساتي. د دغو مالي سرچینو(فنډونو) د اصلاح او سمون په وړاندې یو ستر خنډ د خوندیتوب لپاره د یوه پیاوړي شبکې نشتوالی دی څو بې وزله خلک د انرژۍ له زیاتېدونکو بیو څخه خوندي وساتي.▣

سرچینه: د مالي تمویل او پراختیا خپرونه

ژباړونکی: مسعود ودان

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي په کابل کې د ایټالیا سفارت له استازو سره وکتل



د ۱۳۹۸ کال د وری ۲۰ مه – د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي په کابل کې د ایټالیا سفارت د مرستیال سره د اقتصادي ودې، بانکدارۍ سکتور د پرمختګ او بانکدارۍ نظام د وضعیت په اړه د افغانستان بانک په مرکزي دفتر کې غونډه وکړه.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال او سرپرست رئیس ښاغلي واحدالله نوشیر په هیواد کې د افغانستان بانک او بانکي نظام د یوې نیمې لسیزې لاسته راوړنو او کړنو ته په اشارې سره وویل چې د افغانستان بانک د اقتصادي ودې په موخه هڅه کوي چې مالي آسانتیاوو ته لاسرسي سره خلک وکولای شي وړو او منځنیو سوداګریو په رامنځته کولو سره د هیواد په اقتصادي وده او پرمختګ کې خپل سهم ادا کړي.

په کابل کې د ایټالیا سفارت استازو هم له د افغانستان بانک سره د دوه اړخیزو همکاریو لپاره چمتوالی وښود او د افغانستان اقتصادي او مالي نظام د لا پرمختګ لپاره یې پر کړو ژمنو ټینګار وکړ.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د لومړي مرستیال او سرپرست سربېره، په کابل کې د ایټالیا سفارت مرستیال، د ایټالیا سفارت لومړي سکرتر، د افغانستان بانک د مالي چارو څخه د څارنې لوی آمر او د پولي سیاست لوی آمریت مرستیال ګډون کړی وو.▣

# د افغانستان بانک، سوداګریزو بانکونو او کوچنیو مالي ادارو لپاره د پوهاوی پروګرام جوړ کړ

کابل، ۱۳۸۹ د وري ۲۱ـ د افغانستان بانک د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې د پرمختګونو په پام کې نیولو سره مالي وجوه ته د خلکو د لاسرسی د اسانتیاو په موخه د سوداګریزو بانکونو او د کوچنیو مالي ادارو استازو لپاره د پوهاوی پروګرام په لاره واچوه.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال او سرپرست ښاغلي واحد الله نوشیر د افغانستان په بانکي نظام کې د عامه اعتبارونو د ثبت او د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت د سیستمونو په ارزښت باندې د خبرو په ترڅ کې وویل چې د دې پروګرام د جوړیدو موخه، د اعتباري معلوماتو د راټولولو لپاره د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستمونو د معاصره میتودونو کارونه ده.



همدا ډول، د افغانستان بانک لومړي مرستیال زیاته کړه چې د افغانستان بانک د بانکدارۍ په سیستمونو کې د پرمختګ په پام کې نیولو سره او د عامه اعتبارونو د ثبت او منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت د سیستمونو دویم پړاو د تطبیقولو په برخه کې د هغوی د تجهیز لپاره ځینې پلانونه تر لاس لاندې لري؛ په همدې موخه یې د پوهاوی پروګرام جوړ کړ څو په دې برخه کې د زده کړې په ترلاسه کولو سره، مالي وجوه ته د لاسرسی د لا اسانتیا ترڅنګ د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم، د احتمالي مالي خطرونو د کموالي او د پور په ترلاسه کولو کې د اسانتیاو د رامنځ ته کولو لامل کیږي.▣

# هیئت مدیره انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان طی نشستی اجراات ربع اول سال ۲۰۱۹ میلادی این انستیتیوت را به بحث گرفتند



کابل، ۱۲ حمل ۱۳۹۸– نشست هیئت مدیره انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان، تحت ریاست محترم واحد الله نوشیر معاون اول دافغانستان بانک و رئیس هیئت مدیره AIBF راه اندازی شد. در این نشست نخست محترم لطف الحق نور پسرلی رئیس انستیتوت مالی و بانکداری افغانستان در مورد عملکرد ها و دستاورد های انستیتوت در ربع اول سال ۲۰۱۹ گزارش ارائه نمود.

در عین حال، محترم واحد الله نوشیر معاون اول د افغانستان بانک و رئیس هیئت مدیره انستیتوت مالی و بانکداری افغانستان بعد از سمع گزارش انستیتیوت، طی این جلسه در رابطه به پیشرفت ها، تسریع و بهبود کارهای انستیتوت مالی و بانکداری افغانستان رهنمایی های لازم ارائه نموده اضافه کرد که هیئت مدیره انستیتوت تلاش می ورزد تا ادارات دیگر را هم متقاعد ساخته تا به هدف بلند بردن ظرفیت بانکداری و مالی همکاران خود، آنها را به این انستیتوت متذکره معرفی نمایند.

قابل ذکر است که در این نشست علاوه بر محترم واحد الله نوشیر معاون اول د افغانستان بانک و رئیس هیئت مدیره انستیتوت مالی و بانکداری، محترم بهرام برزین و محترم سالم امید، نیز اشتراک نموده بودند. ▣

## د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي، د ګمرکاتو د مشرتابه پلاوي او سوداګريزو بانکو له استازو سره غونډه وکړه





د ۱۳۹۸ کال د وری ۲۷ مه – د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د ګمرکاتو رئيس ښاغلي رشاد پوپل او د سوداګریزو بانکونو له استازو سره د تادیاتو، سترو او منځنيو مالیاتو او ګمرکي عوایدو په اړه چې په برېښنايي توګه د سوداګریزو بانکونو له لارې ترسره کيږي، خبرې اترې وکړې.

د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي سوداګريزو بانکونو استازو ته د د دولتي عوایدو د تعرفو تادیه کوونکو لپاره د لا آسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه اړینې لارښوونې وکړې.

ښاغلي رحیمي زیاته کړه چې اوس سوداګر کولای شي د هېواد له ګوټ ګوټ څخه په هر یوه سوداګريز بانک کې چې حساب ولري خپلې تعرفې او مالیاتي لیږدونې ترسره کړي، خو بانکونه باید هڅه وکړي چې سوداګرو ته د لا آسانتیاوو لپاره لارې چارې برابرې کړي.

په همدې ډول د ګمرکاتو لوی رئيس ښاغلي رشاد پوپل هم وویل چې برېښنايي راکړو او ورکړو سره د ګمرکاتو ترڅنګ سوداګرو ته هم آسانتیاوې رامنځته شوي او له سوداګریزو بانکونو څخه یې د ښې همغږۍ په موخه وغوښتل چې خپلې چارې ګړندۍ او لا ښې کړي، څو د دولتي عوایدو تادیه کوونکي وکولای شي په خوندي او ارامه فضا کې خپلې مالي لیږدونې ترسره کړي.

اوسمهال د افغانستان بانک په نمایندګیو کې له پنځوس زره افغانۍ زیاتې نغدي معاملې نه ترسره کيږي، د دولتي عوایدو د تعرفو تادیه کوونکي او سوداګر د سوداګریزو بانکونو او د دې بانکونو د ولایتي نمایندګیو له لارې خپلې لیږدونې ترسره کوي.▣

# د افغانستان بانک په پلازمینه کابل کې افغانۍ زاړه بانکنوټونه وسوځول





د ۱۳۹۸ کال د ورې ۱۴ مه – د افغانستان بانک د قانون د ۳۹ او ۴۲ مادې پربنسټ یو میلیاردو ۷۸۵ میلیونه ۷ سوه زره له کاره لوېدلې زړې افغانۍ بانکنوټونه د سوځولو د ځانګړې پلاوي پر وړاندې په کابل کې وسوځول.

د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي د پیسو د سوځولو پرمهال وویل چې په افغانستان کې له پیسو څخه د سمې ساتنې کلتور باید دود شي، پیسې باید په بکسي جیبونو کې وساتل شي او بانکدارۍ سیستم باید پیاوړی شي چې نغدي معاملو حجم کم شي، څو د پیسو له ژر زړیدو او له کاره لویدو څخه مخنیوی ترسره شي.

ښاغلي رحیمي زیاته کړه که څه هم افغانۍ بانکنوټونه په لوړ کیفیت چاپ شوي، خو په ورځنیو چارو کې له دې پیسو څخه د خلکو د ناسمې ساتنې او ناوړه کارولو له امله ژر زړېږي او د بیاځلي چاپ لپاره یې لګښت ترسره کیږي.

د یادونې وړ ده چې زړو سوځول شویو بانکنوټونو زریز، پینځه سویز، سلیز، پنځوسیز، شلیز، لسیز، پینځه ایز، دوه ایز او یو ایز ډولونه لرل چې د مشرانو جرګې، د عدلیې وزارت، مالیې وزارت او امنیتي ارګانونو د استازو په ګډون او د افغانستان بانک د بېلا بېلو برخو د پلاوي پر وړاندې وسوځول شول.■

# رئیس کُل د افغانستان بانک به آیندهٔ روشن اقتصاد کشور خوش بین است




با وجود اینکه افغانستان با چالش های اجتماعی و اقتصادی رو برو است، ولی باز هم محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک به آیندهٔ روشن اقتصاد کشور خوشبین می باشد.

تنظیم سکتور بانکی افغانستان با معیار های بین المللی بانکی در زمینه ارتباط بازار مالی کشور با بازار های مالی بین المللی یک گام بزرگ شمرده میشود. جهت رسیدن به این هدف، د افغانستان بانک به حیث بانک مرکزی کشور دو مسئله مهم را روی دست گرفت که یکی آن عصری سازی زیرساخت های بانکی کشور و دیگر آن تلاش در جهت جذب حد اقل ۹۰ درصد مردم کشور به سوی بانکداری رسمی، می باشد.

محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک که ریاست این پروسه را بر عهده »

